# د یمن جګړه؛ د ګټو انډول



د ۲۰۱۸م کال د نومبر پر ۲۱مه، د الجزیرې د خبر لمڅې په یمن کې د جګړې له پیل راهیسې نږدې ۸۵۰۰۰ ماشومانو د لوږې له امله ژوند له لاسه ورکړی.  دا له هغو خبرونو څخه یو خبر دی چې د یمن د وژونکې ناورین په اړه یو انځور وړاندې کوي. دغه ناورین د نننۍ عصر له خورا ستر انساني ناورینونو څخه ګڼل کېږي.

د یمن لپاره د ملګرو ملتونو ځانګړي استازي په خورا ویاړ سره ویلي، چې د یمن جګړې ته هېڅکله هم په زیاته کچه نړیوال پام نه دی وراوښتی او نور نه ښایي چې دا جګړه یوه «هېره شوې جګړه» و بلل شي . خو د نړیوالو پاملرنه به څه ګټه وکړي؟ د نړیوالو پاملرنې هیڅ مثبت بدلون نه دی رامنځته کړی او نه یې دې ستونزو ته حللاره هواره کړې. خلک مري، هغوی ښېړنیو مرستو او ښېړنیو روغتیایي آسانتیاوو ته اړتیا لري، خو لاسرسی ورته نه لري.

دا ټول داسې مهال رامنځته کېږي چې ملګرو ملتونو اعلان وکړ، چمتو دي په جګړه کې ښکېلې ټولې غاړې د مذاکراتو مېز ته راولي. د یمن وګړي په سختو کړاوونو کې ژوند تېروي. دې کړکېچونو ته په ځواب کې د ملګرو ملتونو سازمان، چې د جګړې له بدبختیو نه د بشریت د ژغورلو دعوا کوي له هغه چا سره مذاکرات کوي، چې هره ورځ د یمن پر مظلوم ولس هوایي بریدونه کوي او په زرګونو خلک یې وژلي دي. په دې هوایي بریدونو کې هره ورځ ۱۳۰ ماشومان وژل کېږي او ملګري ملتونه هم دا مني، خو دوی یوازې پر دې خبره بسنه کوي، چې په روانه جګړه کې له ښکېلو غاړو سره په خبرو بوخت دي. (Save The Children)

ایا دا په ریښتیا هم یوه لاسته راوړنه ده؟ ایا د یمن د جګړې قربانیان همدې ته په تمه دي؟ ایا د دې وخت نه دی رارسېدلی چې موږ پوه شو، چې دا نظام څومره له فساده ډک دی؟

د غربي نظام پلويان ښايي دا دليل وړاندې کړي، چې د ملګرو ملتونو سازمان خپل محدوديتونه لري او نه شي کولی چې د يوه خپلواک دولت په چارو کې لاسوهنه وکړي، ايا دا د زرګونو خلکو د قتل لپاره يو دليل کېدلی شي؟

د اوربند هڅې په يوه نامعلوم حالت کې دي. په يمن کې د سياسي وضعيت له امله بشري مرستې په خورا کمه کچه تر خلکو رسېږي. دا حالت د سعودي عربستان په ګډون د ۱۱ هيوادونو د لاسوهنې له امله رامنځته شوی دی. امريکا متحده ايالات، فرانسه او برتانيا د سعودي عربستان د هوايي ځواکونو لپاره وسلې، الوتکې او استخباراتي معلومات برابروي. د ملګرو ملتونو د بشر حقونو د لوی کميشنر په وينا چې په دې جګړه کې د يمن ۳/۲ برخه ملکي وګړو خپل ژوند له لاسه ورکړی دی. امريکا متحده ايالاتو هم په دې جګړه کې هوايي بريدونه ترسره کړي دي او دا يې هم منلې ده چې په يمن کې يې ځمکنې ځواکونه په دنده ګمارلي دي.

څه علت دی؟ امريکا متحده ايالات، برتانيا او فرانسه د ملګرو ملتونو د امنيت شورا غړي هيوادونه دي. دا شورا په ملګرو ملتونو کې خورا اغېزناک او ډېر صلاحيتونه لري. دې شورا په ۱۹۴۵م کال کې تر خپل تاسيس راهيسې ګڼې شخړې هوارې کړې دي، خو په دې جګړه کې د ستراتيژيکو ګټو له امله نه غواړي چې دې جګړې ته د پای ټکی کېږدي. يمن د نړۍ د تېلو د صادرېدو په لار کې يو مهم او له ستراتيژيک اهميت څخه برخمن هيواد دی.

برتانيا چې د ملګرو ملتونو د امنيت شورا دايمي غړی هيواد دی، په دې وروستيو کې يې د يمن د جګړې موضوع امنيت شورا ته وړاندې کړه او د ۱۴ غړو هيوادونو په منځ کې د يمن د جګړې په اړه د يوې پرېکړې پر سر خبرې کوي. د سي بي ايس خبرې چينل په وينا دا پرېکړه له ښکېلو غاړو غوښتنه کوي، چې اوربند وکړي، له حديده بندر څخه محدوديتونه لرې کړي او د بشري مرستو پر وړاندې خنډونه له منځه يوسي. دا پرېکړه همدا ډول په جګړه کې له ټولو ښکېلو غاړو څخه غوښتنه کوي، چې په يمن کې پر ګڼو مېشتو ملکي سيمو بريدونه بند کړي، پر ګاونډيو او بېريو چلولو سيمو هم د مزايلو له توغولو څخه لاس واخلي.

په ورته وخت کې د برتانيا ګارډين ورځپاڼې خبر ورکړی، چې دا لا تراوسه څرګنده نه ده، چې غړي هيوادونه به څه وخت د دې پرېکړې په اړه رايه اچونه کوي او غړي هيوادونه به څه وکړي؟ دا پرېکړه له دې امله هم مهمه ده چې دا به مذاکراتو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي او تر دوو سختو اونيو وروسته به يو لنډ مهاله اوربند رامنځته کېږي.

د حيرانتيا خبره دا ده چې د دې پرېکړې په اړه خبرې څکه وځنډېدلې، چې د سعودي عربستان شهزاده د دې پرېکړې د شرايطو په اړه ناخوښي څرګنده کړه. نړيوالې ټولنې هم دا منلې چې د دې پرېکړې تر منلو وړاندې به سعودي د پرېکړې په اړه د اصلاحاتو غوښتنه کوي. دا مذاکرات به بشري مرستې چې د يمن خلک ورته سخته اړتيا لري، وځنډوي. د بي بي سي د راپور له مخې د يمن ۱۷.۸ ميليونه وګړي د راتلونکي وخت په ډوډۍ پورې حيران دي او ۸.۴ ميليونه وګړي يې د بشپړې لوږې له خطر سره مخ دي. همدا ډول ۴۰۰۰۰۰ يمني ماشومان چې عمرونه يې تر پنځه کلونو کم دي له سختې خوارځواکۍ سره مخ دي.

ولې د يو هيواد له ګټو څخه په دې پلمه ګټه واخيستل شي چې په يمن کې د کړکېچ مخه پرې نيول کېږي؟ ځواب يې ډېر ساده دی. نړيواله ټولنه د خپلو مالي ګټو لپاره په يمن کې د سلګونو زرو ځورېدلو خلکو ژوند له پامه غورځوي. امريکا متحده ايالات او برتانيا منځنې ختيځ ته تر ټولو ډېره وسله صادروي او سعودي عربستان د دغو وسلو د نړۍ دويم ستر واردونکی هيواد دی. دغه

راز، د برتانیې او متحده ایالاتونو ترڅنګ روسیه، فرانسه او چین هم نړۍ ته د وسلو د سترو صادرونکو هیوادونو په ډله کې راځي. (ګارډین)

دا شمېرې د اهمیت له امله باید په پام کې و نیول شي، لکه څرنګه چې نوموړي هیوادونه په بشپړې ورتیا سره کولی شي چې په لوېدیځې نړۍ کې بدلون رامنځته کړي. دا شمېرنې او حقایق څرګندوي چې په اسلامي نړۍ کې روان بحرانونه مالې او ستراتیژیکې مخینې لري. البته خلک باید په دې پوه شي، چې که رایه اچونه وشي او یا نه، هیڅ بدلون نه شي راتلی. په دې نظام کې هر هیواد د خپلو ګټو په لټه کې دی.

موږ باید دغه نظام ته بدلون ورکړو، نړۍ د هغو ملګرو ملتونو له منګولو خلاصه کړو، چې د دولت د ګټو ساتلو لپاره د یو بنسټ په توګه کار کوي او داسې ذهنیت رامنځته کوي چې لوېدیځ دولتونه ګواکې د بشریت د ژغورنې لپاره پوره علاقمندي لري. الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنْفُسِهِمْ﴾**

[الرعد: ۱۱]

*ژباړه: « له شک پرته، الله سبحانه و تعالی د هیڅ یو قوم حالت نه بدلوي، تر څو هغوی خپل اوصاف نه وي بدل کړي».*

**د حزب التحریر- مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**لیکواله: فاطمه مصعب د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر غړې**

**ژباړه: حمزه خالد**